اسلامي عقيدې زدکړه

د لومړۍ برخه

ملت، قوم، دين او عقيده؛ تعريفونه، توپيرونه او اړيکې

ليکوال: محمد شريف (صداقت)

تاريخ: ١٤٠٥/٨/١


بسم الله الرحمن الرحيم

د لړۍ موخه او د لوستونکو بلنه

د دې لړۍ موخه دا ده چې د اسلامي عقيدې بنسټيز مفاهيم د قرآن کريم، صحيح سنت او د باوري علماوو د علمي ميراث په رڼا کې، په ساده، روانه او مستنده پښتو روښانه کړو.

د اسلامي مفاهيمو سم درک يوازې د اصطلاحاتو په يادولو نه ترلاسه کېږي؛ بلکې د هغو د معناوو، شرعي استعمال، دلايلو او ترمنځ د اړيکو پېژندل هم اړين دي. له همدې امله، په دې لړۍ کې هڅه کوو چې هره موضوع په تدريجي ډول وڅېړو او د امکان تر حده يې معتبرې سرچينې هم له لوستونکو سره شريکې کړو.

له درنو علماوو، استادانو، محصلينو او ټولو علم‌دوستانو ځخه هيله کوو چې د ليکنو په علمي ارزونه کې راسره مرسته وکړي. که په کومه برخه کې علمي تېروتنه، کمزورى استناد يا د وضاحت اړتيا ووينئ، مهرباني وکړئ په علمي دليل يې را په ګوته کړئ، څو د اصلاح او سمون فرصت برابر شي.

زمونږ موخه د حق موندل او روښانه کول دي، نه د خپل نظر دفاع.

علمي نيوکه د اصلاح وسيله ده، او د حق منل د علمي تواضع نښه.

۱ ـ ملت څه ته وايي؟

د «ملت» کلمه د استعمال له مخې بېلابېلې معناوې لري. په عربي ژبه کې «مِلَّة» د دين او هغې ديني لارې لپاره کارول کېږي چې الله تعالى د خپلو پيغمبرانو له لارې خلکو ته ښوولې ده. د لغت‌پوهانو په وينا، د «مِلَّة» او «دين» ترمنځ نږدې اړيکه شته، خو د دواړو د استعمال طريقې تل يو شان نه وي. (۱)

الله تعالى د ابراهيم عليه السلام د لارې په اړه فرمايي:

﴿وَمَنْ يَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ إِبْرَاهِيمَ إِلَّا مَنْ سَفِهَ نَفْسَهُ﴾

ژباړه: او څوک به د ابراهيم له دين څخه مخ واړوي، پرته له هغه چا چې خپل ځان يې ناپوه کړی وي؟ (۲)

همدارنګه فرمايي:

﴿ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا﴾

ژباړه: بيا مو تا ته وحې وکړه چې د ابراهيم، چې له باطلو لارو څخه حق ته مايل و، د دين پيروي وکړه. (۳)

په دواړو آيتونو کې د «مِلَّة» کلمه د ابراهيم عليه السلام د دين او ديني لارې په معنا ده.

خو په معاصره پښتو کې «ملت» د يوې پراخې ټولنې لپاره هم کارول کېږي چې ګډ ملي هويت، تاريخ، ټولنيز ترڅو او ملي احساس ولري؛ لکه «افغان ملت».

نو بايد د قرآن کريم د «مِلَّة» او د ننني پښتو د «ملت» ترمنځ د معنا توپير ته پام وکړو. په قرآني استعمال کې د «مِلَّة» معنا د دين او ديني لارې په مفهوم پورې تړلې ده، خو په معاصره پښتو کې «ملت» د ملي هويت لپاره هم کارول کېږي.

۲ ـ قوم څه ته وايي؟

«قوم» په عربي ژبه کې د خلکو يوې ډلې ته ويل کېږي. د لغوي سرچينو له مخې، د دې کلمې استعمال د خلکو د يوې ډلې لپاره راځي، او د هغې دقيق مفهوم د متن او سياق له مخې پېژندل کېږي. (۴)

په معاصره پښتو کې «قوم» ډېرى وخت د هغو خلکو لپاره کارول کېږي چې ګډ نسب، ژبه، اصل، دودونه يا نورې ټولنيزې ځانګړنې ولري؛ لکه پښتون قوم. خو د قوم مفهوم بايد يوازې په يوه ځانګړنه پورې محدود نه شي.

الله تعالى فرمايي:

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴾

ژباړه: اې خلکو! موږ تاسې له يوه نارينه او يوې ښځې پيدا کړي ياست، او تاسې مو قومونه او قبيلې گرځولي ياست، څو يو بل وپېژنئ. بېشکه د الله په نزد په تاسې کې تر ټولو عزتمند هغه څوک دی چې تر ټولو ډېر تقوا ولري. بېشکه الله ښه پوه او ښه خبر دی. (۵)

دا آيت د انسانانو د بېلابېلو قومونو او قبيلو د پېژندنې اصل بيانوي. د قومونو او قبيلو شتون د پېژندنې او ټولنيز تعامل وسيله ده، نه د يو انسان د ذاتي برتری دليل.

د اسلام له نظره، د انسان د فضيلت معيار يوازې نسب، ژبه، رنگ او قومي تړاو نه دی؛ بلکې تقوا او د الله تعالى پر وړاندې مسؤولانه ژوند دی.

۳ ـ د ملت او قوم ترمنځ توپير

د معاصرې پښتو د عام استعمال له مخې، «ملت» او «قوم» يو له بل سره اړيکه لري، خو تل يوه معنا نه لري.

ملت: د پراخ ملي هويت لرونکې ټولنې لپاره کارول کېږي؛ لکه افغان ملت.

قوم: د گډ نسب، ژبې، اصل، دودونو يا نورو ټولنيزو اړيکو له مخې د خلکو يوې ډلې ته ويل کېږي؛ لکه پښتون قوم.

د بېلگې په توگه، يو پښتون د پښتني قوم غړی او د افغان ملت برخه کېدای شي؛ او په ديني لحاظ مسلمان وي.

البته دا توپير د معاصرې پښتو د عام استعمال له مخې تشريح شوی دی. په بېلابېلو ژبو، ټولنو او علمي سياقونو کې د «ملت» او «قوم» معناوې سره نږدې کېدای شي. له همدې امله، د دغو اصطلاحاتو د معنا په ټاکلو کې بايد د متن، ژبې او استعمال سياق ته پام وشي.

همدارنگه، ملي يا قومي هويت او ديني هويت دوه جلا اړخونه دي. يو انسان کولای شي په عين وخت کې د يوه ملت غړی، د يوه قوم اړوند او د يوه دين پيرو وي.

۴ ـ دين څه ته وايي؟

د «دين» کلمه په عربي ژبه کې بېلابېلې معناوې لري؛ د لغت‌پوهانو په بيان کې د اطاعت، غاړه ايښودلو، جزا او شريعت په معناوو هم کارول شوې ده. (٦)

په اسلامي اصطلاح کې دين د الله تعالى هغه لارښوونې او احکام دي چې د انسانانو د هدايت لپاره يې د خپلو پيغمبرانو له لارې رالېږلي دي. دا لارښوونې د عقيدې، عبادت، اخلاقو او د انسانانو ترمنځ د چلند اړوند موضوعات رانغاړي.

الله تعالى فرمايي:

﴿إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ﴾

ژباړه: بېشکه د الله په نزد منل شوی دين اسلام دی. (٧)

د دې آيت له مخې، اسلام د الله تعالى په نزد منل شوی دين دی. مسلمان د الله تعالى پر هدايت ايمان لري، د هغه عبادت کوي او هڅه کوي چې خپل ژوند د الهي لارښوونو له مخې تنظيم کړي.

د دين د تعريف پر مهال بايد دا هم په پام کې ونيول شي چې «دين» په عمومي ژبني استعمال کې د بېلابېلو ديني لارو لپاره کارول کېدای شي؛ خو کله چې په شرعي سياق کې د الله تعالى د منل شوي دين خبره کېږي، د قرآن کريم له مخې اسلام مراد دی.

اسلام يوازې د انسان د شخصي عبادت نوم نه دی؛ بلکې د عقيدې، عبادت، اخلاقو، مسؤوليت او له نورو انسانانو سره د ښه چلند لارښوونې هم رانغاړي.

۵ ـ عقيده څه ته وايي؟

د «عقيده» کلمه د عربي ژبې له «عَقَدَ» څخه اخيستل شوې ده، چې د تړلو، ټينګولو او کلکولو معنا لري. په لغوي لحاظ، د دې مادې معنا له ټينګښت او تړاو سره اړيکه لري. (٨)

په اسلامي اصطلاح کې عقيده د هغو بنسټيزو ديني باورونو نوم دی چې مسلمان يې په زړه کې په ټينګښت مني. د اسلامي عقيدې تر ټولو مهم بنسټ پر الله تعالى ايمان دی؛ ورسره پر ملائکو، اسماني کتابونو، پيغمبرانو، د آخرت پر ورځې او الهي تقدير ايمان هم د ايمان له بنسټونو څخه دي.

د جبرائيل عليه السلام په مشهور حديث کې رسول الله ﷺ د ايمان په اړه داسې فرمايلي دي:

«أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَرُسُلِهِ، وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ، خَيْرِهِ وَشَرِّهِ».

ژباړه: دا چې پر الله، د هغه پر ملائکو، کتابونو، رسولانو، د آخرت پر ورځې او پر تقدير ايمان ولرې، د هغه په خير او شر. (۹)

دا حديث د ايمان بنسټيز ارکان په څرګنده بيانوي. په دې کې د الهي تقدير يادونه هم شته؛ نو د ايمان د بنسټونو په بيان کې بايد دا رکن هېر نه شي.

الله تعالى په قرآن کريم کې فرمايي:

﴿آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ﴾

ژباړه: رسول پر هغه څه ايمان راوړی چې د خپل رب له لوري ورته نازل شوي دي، او مؤمنانو هم؛ ټولو پر الله، د هغه پر ملائکو، کتابونو او پيغمبرانو ايمان راوړی دی. (۱۰)

دا آيت د ايمان څو مهم بنسټونه بيانوي. د ايمان د ټولو شپږو ارکانو د بشپړ بيان لپاره د جبرائيل عليه السلام پورته حديث هم مهم دی، ځکه په هغه کې د آخرت او تقدير يادونه هم په څرګنده شوې ده.

عقيده يوازې يوه تشه دعوه نه ده؛ بلکې د مسلمان د ديني فکر، عبادت، اخلاقو او عمل بنسټ جوړوي. سمه عقيده انسان د الله تعالى د پېژندنې او عبادت لوري ته رهبري کوي او د ژوند په چارو کې د الهي لارښوونو د منلو اهميت ورښيي.

٦ ـ د ملت، قوم، دين او عقيدې ترمنځ اړيکه

د دغو څلورو اصطلاحاتو د توپير او اړيکې د روښانتيا لپاره لاندې بېلګه په پام کې ونيسئ:

ملت: په معاصر استعمال کې ملي هويت؛ لکه افغان ملت.

قوم: قومي يا ټولنيز هويت؛ لکه پښتون قوم.

دين: د انسان ديني لاره؛ لکه اسلام.

عقيده: د دين بنسټيز باورونه؛ لکه پر الله تعالى، د هغه پر پيغمبرانو او د آخرت پر ورځې ايمان.

دا اصطلاحات د انسان د هویت او ژوند بېلابېل اړخونه بیانوي. ملت او قوم تر ډېره د ټولنیز او ملي تړاو اړوند مفاهیم دي؛ خو دین او عقیده د انسان له دیني لارې او بنسټیزو باورونو سره تړاو لري.

له همدې امله، د دغو کلمو معناوې باید د استعمال له سیاق سره سمې وپېژندل شي. د یوې کلمې د یوې معنا پېژندل دا معنا نه لري چې هغه کلمه په هر ځای کې یوازې همغه معنا لري.

پایله:

د اسلامي مفاهیمو په سم درک کې د اصطلاحاتو دقیق پېژندل مهم دي. «مِلَّة» په قرآني استعمال کې د دین او دیني لارې معنا لري، خو په معاصره پښتو کې «ملت» د ملي هویت لپاره هم کارول کېږي. «قوم» د خلکو یوې ډلې ته ویل کېږي چې د بېلابېلو ګډو ځانګړنو له مخې سره تړلې وي. «دین» د انسان د دیني لارې او الهي لارښوونو اړوند مفهوم دی، او «عقیده» د هغو بنسټیزو باورونو نوم دی چې مسلمان یې په ټینګښت مني.

د دې توپیرونو پېژندل مورِ له مفهومي ګډوډۍ څخه ژغوري، د دیني موضوعاتو په سم درک کې مرسته کوي او د اسلامي عقیدې د لا ژورې زده‌کړې لپاره زمینه برابروي.

زمورِ هیله دا ده چې دا لړۍ د الله تعالی په مرسته د علم، اصلاح او ګټورې زده‌کړې وسیله وګرځي. له ټولو لوستونکو او علم‌دوستانو څخه غوښتنه کوو چې د علمي اصلاح لپاره خپل مستند نظرونه او وړاندیزونه راسره شریک کړي.

سرچينې او حوالې:

(١) الراغب الأصفهاني، المفردات في غريب القرآن، ماده: «ملل». د «مِلَّة» د معنا او له دين سره د اړيکې په اړه.

(٢) القرآن الكريم، سورة البقرة، آيت ١٣٠.

(٣) القرآن الكريم، سورة النحل، آيت ١٢٣.

(۴) ابن منظور، لسان العرب، ماده: «قوم». د «قوم» د لغوي استعمال په اړه.

(۵) القرآن الكريم، سورة الحجرات، آيت ١٣.

(٦) الراغب الأصفهاني، المفردات في غريب القرآن، ماده: «دين». د دين د لغوي معناوو او د شريعت په معنا د استعمال په اړه.

(٧) القرآن الكريم، سورة آل عمران، آيت ١٩.

(٨) ابن منظور، لسان العرب، ماده: «عقد». د «عقد» د لغوي معنا په اړه.

(٩) مسلم بن الحجاج، صحيح مسلم، كتاب الإيمان، حديث جبرائيل عليه السلام، حديث ٨؛ په حديث کې د ايمان د ارکانو او د تقدير د بيان په اړه.

(١٠) القرآن الكريم، سورة البقرة، آيت ٢٨٥.